مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: مسعود فاراني
ژباړن: سیلانی

۲۰۲۰/۰۵/۰۲

# سلطان سکندر لودي او پهٔ هند کې د دري ژبې خپرول

## دويمه برخه

سلطان سکندر لودي د سلطان بهلول لودي زوی و. دهٔ لهٔ خپل پلار څخه د مشری، اداري،سیاست او ژوند ټول صفات زده کړي و، خو د اداري پهٔ برخه کې د پلار پهٔ پرتله جدي و. سلطان سکندر لودي پهٔ 1489 م کال د هند واکمن شو. دا چې دی یو منضبط شخص و، نو ویې کولی شو چې د هند واکمني ته پراختیا ورکړي. د نوموړي د واکمنی ډېره موده پهٔ هند کې د سیمو پهٔ نیولو او پرغل کولو تېره شوه. د بېلګې پهٔ توګه هغهٔ پهٔ 1495م کال « پټنه»، پهٔ 1499م کال پهٔ مالوه کې د« نرولي » کلا، پهٔ 1500-1501م کې د « سنبل » سیمه، وروسته « ګواليار»، ورپسې د « بهار » ټوله سیمه او پهٔ پای کې یې « رنتهمبور » د خپلې واکمنی پهٔ قلمروه کې را دننه کړ. د هغهٔ واکمني لهٔ جهلم څخه تر بنګاله پورې ډېره پراختیا وموندله.

سلطان سکندر لودي پر خپل رعیت او عام ولس ډېر زړهٔ سواند و او هره ورځ به یې د هغوی د سیمو نرخنامې را غوښتلې او پهٔ خپلهبه یې تري جدي څارنه کوله. هغه څهٔ چې ددغهٔ ځیرک پادشاه پهٔ هکله د یادولو وړ دي، هغه داده چې دی پهٔ خپله پښتون و، خو دی لومړنی کس دی چې پهٔ هند کې یې د دري ژبې رسم الخط مروج کړ او د خپل دربار د دیوان و دفتر حسابدار ته یې امر وکړ چې لهٔ دې وروسته دې پهٔ پارتي دري ژبې سره خپل دیوان و دفتر تنظیم کړي. لومړنی کس چې پهٔ دربار کې یې پهٔ دري ژبې خبرې وکړې، هغه پهٔ خپله سلطان سکندر لودي و چې وروسته یې ډېرو دري ژبو ادیبانو ته پهٔ دربار کې ځای ورکړ.

دري ژبې سره د سلطان سکندر لودي مینه او د خلکو مینه لهٔسلطان سره ددې لامل شوه، چې ورځ تر بلې ددې ژبې مینوال ډېر شي او ډېر هندي شاعران ددې ژبې زده کړې ته مخه کړه. د سلطان لهٔ خوا د دري ژبې د پرمختګ لهٔ پاره رامنځته شوې حالت ددې لامل شو، چې د لومړي ځل لهٔ پاره دهند یو بوه وزیر، طبیب او ادیب « میان بهوه » یو اړین کتاب لهٔ سانسکریت ژبې څخه پارتي دري ژبې ته را وژباړي. دا کتاب یې د سلطان سکندر پهٔ نوم و نوموهٔ، چې تر اوسه د « طب سکندري » پهٔ نامهٔ مشهور دی. وروسته همدغهٔ کس یو بل اثر« دربار سکندري» چې د دربار حېرانوونکي ګزارشونه پهٔ کې دي پهٔ پارتي دري ژبې ولیکهٔ.

سلطان سکندر پهٔ خپله د دري او پښتو ژبې نوموتی شاعر و. هغهٔ پهٔ پښتو ژبه کې د « ګلرخي» تخلص ځانته کارولی دی. دهٔ د خپل هېواد بله ژبه « پارتي دري» د خپلې مورنی ژبې پهٔ څېر خوښېده او د هغهٔ پهٔ خپرولو کې هڅاند و. سلطان سکندر لودي ویلي و، که څهٔ هم زهٔ پښتون یمو خو د هېواد بله ژبه « پارتي دري » مې پهٔ هند کې خپره کړه،کهٔ چېرې زهٔ پښتون نهٔ وی، نو ما پښتو ژبه پهٔ هند کې خپروله.

زما نږدې دوست او ملګري ( پروفیسور رشید ) چې د نهرو پوهنتون استاد دی، لیکلي:« ...د لودیانو پهٔ دربار کې ټول مجالس، محافل او پرېکړې پهٔ پښتو ژبه تر سره کېدې او وروسته یې ټولې پهٔ دري ژبه چې د کتابت او خپرېدو رسمي ژبه وه ثبت کېدلې. د سکندر لودي د ۱۴ ولایتونو واکمنان پهٔ هند کې لهٔ ټولو مشتو افغانانو سره اړیکې درلودې، دوی ټولو پهٔ پښتو ژبه خبرې کولې، خو لهٔ دري ژبې سره هم اشنا وو...»

سلطان نظام خان یا سلطان سکندر لودي پهٔ 1517 م کال د نومبر پهٔ 21 نېټه د لودي کورنی د دوېم واکمن پهٔ توګه لهٔ دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. سلطان سکندر لودي 28 کاله یا دري لسیزې د هند پهٔ ډېره برخه واکمني وکړه، چې پهٔ ډېری انګریزي متونو کې هغه د امپراطور پهٔ نامهٔ یاد شوی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لۀ بده مرغه پۀ تاريخونو کي د هغۀ لۀ خدمتونو پۀ ځانګړي توګه د دري ژبې د خپرېدو پۀ برخه کې ډېره لږه يادونه شوې ده. د سلطان سکندر لودي دا ستر خدمت پۀ هند کي د پارتي دري ژبې د يوې لويې وېپانګې، نومتو شاعرانو او ددي ژبې د ډېر اثارو د چاپ او رامنځته کېدو لامل شو. د همدي وېپانګې لۀ برکته ننې ايران، افغانستان او تاجکستان پۀ خپلو اثارو کې ګټه اخيسته. د شلمې پېړۍ لۀ ۷۰ لسيزې مخکې پۀ افغانستان، ايران او تاجکستان کې د ليکوالو او څېړونکو دڅېړنو ډېرى سرچينې هندي سرچيني وې. دا هغه سرچيني وې چې پۀ هند کې پۀ پارتي داري ژبه خپرې شوې وې. د دوارِو ( پلار او زوى ) اوراح دې ښاد وي او يادونه يې تلپاتې . لکه د عروفي شاعر پۀ وينا:

**چنان خو کن به نيکويى که بعد از مردنت عرفى**
**مسلمـانـت بـــه زمـزم شـويـــد و هنـد بسوزاند**

**اخذليکونه:**


1. اعلام الودی فی الاخبار اللودی. کتابی است بزبان پشتو از احمد بن سعيد لودی که بسال 686 ه.ق/1287م. در شرح حال خاندان شاهان لودی نوشته شده او اشعار بهلول لودی در آن کتاب نقل شده است
2. تذکرته الاوليای افغان که بعد از سال 612ه.ق/1215م. در ارغسان قندهار نگاشته شده و مؤلف ان سليمان بن بارک خان قوم ماکو صابزی است. اين کتاب شرح حال بسياری از شعرا و اوليا افغان را آروره است و بسال 1319ه.ش در کابل شش صفحه ان در جلد اول پشتانه شعرا عکس برداری و نشر شده است.
3. مروری کوتاهی برتاريخ افغانستان و قضيه پشتو نستان، مؤلف، عتيق پاخون، نومبر2007، کابل
4. پوهاند حبيبی تاريخ مختصر افغانستان، چاپ پشاور، بحث لوديان ملتان. ص ۱۲۹
5. ويکي پديا به زبان هندی

6.[http://www.hindiasit.com/delhi/history/sikander.html](http://www.hindiasit.com/delhi/history/sikander.html)
7.[www.boloji.com/history/008.htm](www.boloji.com/history/008.htm)





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ